دامیرِاهلِ سُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ دکتاب "د نیکئ دعوت" یوقسط

# د جادو

## په باره کښې معلومات

پښتو




شیخِ طریقت، امیرِ اہلسنّت، بانیِ دعوتِ اسلامي، حضرت علّامه مولانا ابو بلال

محمّد اِلیاس عطّار قادِري رَضَوي

دامت برکاتهم العالیة

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

دا مضمون د کتاب ”نیکی کی دعوت“ صفحه 467 تا 482 نه اخستے شوے دے

# د جادو په باره کښې معلومات

**دُعائے عطار:** یاربَّ المُصطفٰی! څوک چې دا رساله ”**د جادو په باره کښې معلومات**“ اولولي یا واوري هغه د جادو او فسادي پیریانو د اثراتو او د بد نظر نه محفوظه اوساتې او بے حساب ئې اُوبخښې. **امين بِجاهِ خاتَمِ النَّبِيّين** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## دُرُود شریف کی فضیلت

**فرمانِ مصطفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: ”ستاسو په ما باندې دُرُود شريف وئيل ستاسو د دُعاګانو محافظ، د رَبِّ کریم د رضا باعث او ستاسو د اعمالو د پاکوالي سبب دے.“ (القول البديع، ص270)

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد**

راځئ چې د سنّتو عام کولو جذبه زیاتولو دپاره یو مدني سپرلے واورو.

## درې شرابي ورونـه دِيني ماحول ته راغلل!

د ضِلع اوکاړه تحصيل دِيپال پور (پنجاب، پاکستان) د يو اسلامي ورور د بيان خلاصه ده چې: په دِيپال پور کښې به زمونږه خاندان د هغه ځائے د ټولو نه مالدارو کورنو کښې شميرلے شو خو افسوس! چې زما د ښه بد پوهيدو نه مخکښې زما مَشر ورور د غلطو دوستانو د صحبت په وجه د **شرابو** نشئ جوړ شوے وو. د بد صحبت او د شرابو څښلو په وجه زمونږ ورور زمونږه په تعليم و تربيت باندې هيڅ توجُّه ورنکړه، د نشې

نه علاوه د هغه هډو بل کار نه وو. د نشې بد عادت هغه داسې مجبوره کړو چې د خپل کور سامان، د کپړو دُکان، کارخانه او زمونږ يو مارکيټ چې په هغې کښې ډير دُکانونه وو دا ټول ئې د نشې د پوره کولو د پاره خرڅ کړل، په کور کښې چې وور لګيدلے وي نو د کور کسان به ترينه څنګه بچ پاتې شي! آخِر هغه اوشو د کومې خبرې مو چې ويره لرله يعني د هغه نه کشر او زما نه مشر وروړ هم په نشه کښې اخته شو، دا وور چې نور زيات شو نو زما نه هُم راچاپيره شو او زه هم په نشه کښې اخته شوم. مور مُحترمه مو د مخکښې نه د مشر وروړ د نشئ کيدو په وجه د غمونو نه بدحاله وه، زمونږ په وجه د هغې غم نور هم زيات شو. آخِر زمونږ قِسمَت څه داسې راوِيښ شو چې زما مينځنې وروړ چې د نشې د آفت نه بچ وو، هغه د تبليغ قرآن و سُنَّت د عالَمګير غير سياسي تحريك دعوتِ اسلامي خوشبوداره دِيني ماحول کښې تګ راتګ شروع کړو، دِيني ماحول کښې د شامليدو په بَرَکت به ئې کله کله په مونږه هم اِنفِرادي کوشش اوکړو او اجتِماع ته به ئې د ځان سره بوتلو، هلته به زمونږ زړه نه لګيدو خو هغه وروړ راباندې اِنفِرادي کوشش جاري وساتو او مونږه به ئې په مُحَبَّت اجتماع له بوتللو. مونږه ټول ورونړه چې څه موده مخکښې نشيان وو اَلْحَمْدُ لِله اوس مونږه ټولو د خپل وروړ د اِنفِرادي کوشش په بَرَکت توبه ويستلې ده او د دعوتِ اسلامي دِيني ماحول سره مو تړون کړے دے. کله چې ما ته خپل تير وخت رایاد شي نو زړه مې ودرَزيږي چې که د دعوتِ اسلامي دِيني ماحول را ته نه وے نصيب شوے نو زمونږه به څه کيدلے؟ شايد چې داسې به شوي وو چې مونږه به نن دَر په دَر خاورې په سر وے او زمونږه خپلو خلقو به هم مونږه ځان ته نزدې نه پريښودلے. خواَلْحَمْدُ لِله د دِيني ماحول په بَرَکت زمونږ په خزان وهلې باغ کښې بيا د خوشحالو مَدَني سپرلے راغے! د الله پاک ډير ډير احسان دے چې د دې ليک د وخته پورې زه د 63 ورځو مَدَني تربيتي کورس کووم او د ټولو نه مشر وروړ مې تقريباً د 17 مياشتو نه د عاشقانِ رسول سره د سُنّتو د تربيت په مَدَني قافله کښې مُسافِر دے.

دعوتِ اسلامی کی قیّوم دونوں جہاں میں مچ جائے دُھوم
اِس پہ فدا ہو بچّہ بچّہ یاالله مری جھولی بھر دے (وسائلِ بخشش ص۱۰۹)

**د شعر ترجَمه:** یا الله پاکه! دعوتِ اسلامي په دنیا کښې عام او په دواړو جهانو کښې قبول کړې، یا **الله** پاکه! لوئے څه چې یو یو ماشوم هم د دې عاشِق جوړ کړې. یا **الله** پاکه! زما دا دُعا قبوله کړې.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د دې مَدَني سپرلي په باره کښې د نیکۍ دعوت

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونـو! تاسو اولیده! د اِنفِرادي کوشش په ذریعه د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې د شریك کیدو په برکت درې شرابیان ورونـه د دعوتِ اسلامي په دِیني ماحول کښې شامِل شو. د شرابي خرابۍ تاسو ولیدلې چې هغه کارخانه، د کپړے دُکان او خپل مارکیټ ټول هر څه د "نَشې" وورته ګُزار کړل! واقعي شراب ډیر خراب څیز دے او د دې په وجه دُنیا او آخِرَت دواړه بربادیږی. شراب دومره بده بَلا ده چې دا د دوائي په طور هم خښل منع دي، چنانچه حضرت سَیِّدُنا طارِق بِن سُوَید رضی اللہ عنہ د **شرابو** په باره کښې تپوس اوکړو، حُضُورِ **پُرنور** صلی اللہ علیہ والہ وسلم منع کړو. هغوئي عرض اوکړو: مونږ خو دا د **دوائي** د پاره جوړَوو. اوئې فرمائیل: "دا **دوائي** نه ده، دا خو پخپله بیماري ده." (مُسلِم ص1097 حدیث 1984) د حضرتِ سَیِّدُنا **ابو موسیٰ اَشعَری** رضی اللہ عنہ نه روایت دے چې د حُضُورِ اَکرَم صلی اللہ علیہ والہ وسلم د عِبرَت نه ډک فرمان دے: "درې کسان به جَنَّت ته نه داخلیږي. په شرابو همیشه والے کولو والا او قاطِعِ رِحم (یعني خپلوي ختموونکے) او د جادو تصدیق کوونکے." (مُسنَدِ اِمام احمد بن حنبل ج7 ص139 حدیث 19586)

# دَ جادو په باره کښې

حضرت عَلّامه علي قاري رحمۃ اللہ علیہ د دې حدیثِ پاك د دې حصّے "او د جادو تصدیق کوونکے" نه لاندې فرمائي: د دې نه مُراد هغه کس دے څوك چې د **جادُو** تاثِیر بذاتِ خود (یعنې په دې کښې د الله د ورکړې نه بغیر پخپله د تاثیر لرلو) قائل وي. (مِرقاۃُ الْمَفَاتِیح ج7 ص242 تحت الحدیث 3656)

## د جادو او پیریانو د وجود انکار کفر دے

خورړو او مُحترمو اسلامي وروڼـو! د "جادُو" وجود د قرآنِ کریم نه ثابت دے لِهٰذا داسې عقیده لرل چې د "جادُو" هېڅ وجود نشته بس دا هسې د خلقو خبرې دي، دا [عقیده لرل] کفر دے. هم دغه رنګ د پیریانو د وجود اِنکار کول هم کفر دے.

## د مالك بِن دینار پریشاني

**حضرت** سَیِّدُنا مالِك بِن دِینار رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْه فرمائي: مونږه د دُنیا په مُحبت کښې په خپل مینځ کښې صُلح کړې ده، لهٰذا اوس مونږه په خپل مینځ کښې نه د نیکئ حکم ورکوو او نه یو بل د بدو نه منع کوو، **الله** پاک دې مونږه په دې حال نه ساتي ګني معلومه نه ده چې په مونږ به کوم عذاب نازلیږي. (شُعَبُ الایمان ج6 ص97 حدیث7596)

## آتش پرست ګاونډي مُسلمان شو

خورړو او مُحترمو اسلامي وروڼـو! سَیِّدُنا مالِك بِن دینار رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْه ډیر پخوانے بُزُرګ دے، هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْه د خپل دور حالت بیان کړے وو او د عذاب د راتلو پریشاني ئې ظاهِره کړې وه او اوس خو حالت ډیر زیات خراب شوے دے. په کروړونو افسوس! اوس خو د مسلمانانو ګڼ شمیر د یو بل نه زیات د دُنیا سره محبَّت کوي او حالات دومره خراب شوي دي چې چا ته د نیکئ دعوت ورکول خو څه! د نیکئ د دعوت ورکوونکي باقاعده مُخالَفت کیږي او د بدئ نه به خوك څه منع اوکړي! ځکه چې نن صبا خو بښه ډیر ډیر د ګناه دعوت ورکولے کیږي. آه! نه خوك د خپلې اصلاح فِکر کوي، نه د کور د اِصلاح کولو پرواه لري او نه د ګاونډیانو د آخِرت د بهتر جوړَولو څه سوچ شته. بَهرحال مونږ ته پکار دي چې مونږه پخپله د صحیح کیدو سره سره نورو اسلامي وروڼـو ته هم د نیکئ دعوت ورکړو او په خپلو ګاونډیانو هم اِنفِرادي کوشش اوکړو. اَلْحَمْدُلِلّٰه زمونږ د بُزُرګانِ دِین رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْهِم په خپلو ګاونډیانو باندې د اِنفِرادي کوشش

کولو ډېر واقعات شته دے، چنانچه شَمعُون نومې يو آتش پرست [يعني د وور عبادت کوونکے] د **حضرتِ** سَيِّدُنا **حَسَن بَصْري** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ګاونډي وو. چې کله د هغه د مرګ وخت نزدې راغے نو هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د هغه خوا ته تشريف يوړو، څه ګوري چې د هغه ټول وجود د وور په لوګي تور شوے دے! هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په هغه اِنفِرادي کوشش شروع کړو او د اِسلام قبلَوَلو **دعوت** ئې ورکړو او د رحمَتِ اِلٰهي اُمِّيد ئې ورکړو. هغه عرض اوکړو چې زه د درې څيزونو په وجه د اسلام نه لرې يم: **(1)** چې د اسلام په نِزد "دُنيا" ډېر بد څيز دے نو بيا تاسو د دې د حاصلولو کوشش ولې کوئ؟ **(2)** مرګ د يقيني ګڼلو باوجود د هغې د پاره **تيّاري** ولې نه کوئ؟ **(3)** ستاسو د وَينا مُطابِق ديدارِ اِلٰهي ډېر لوئے نِعمَت دے نو بيا په دُنيا کښې د هغه د رضا خلاف کار ولې کوئ؟ **حضرت** سَيِّدُنا **حَسَن بَصْری** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ورته ارشاد اُوفرمائيلو: "د دې ټولو څيزونو تعَلُّق خو د عقائدو سره نه دے بلکه د اعمالو سره دے، ته دا غور اوکړه چې په آتش پرستئ کښې تا خپل وخت ضائع کړو نو څه درته حاصل شو؟ مُومِن که هر څنګه وي کم از کم د **الله** پاک وَحدانِيّت (يعني يو والے) خو مني. اُوګوره! تا اويا کاله د دې وور عِبادت اوکړو د دې باوجود مونږ دواړه که دے وور ته څان غوزار کړو نو دا به مونږ دواړه يو شان سيزي، يقيناً ستا د دې وور عبادت کول تا نه شي بچ کولے، خو زما په مالِك و مَولٰی کښې ضرور دا طاقت شته چې که هغه اُوغواړي نو دا وور ماته يوه ذَرَّه نُقصان هم نه شي را رَسَوَلے." دا ئې چې اُوفرمائيل نو هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خپل لاس کښې وور راواخِستو خو وور هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته هيڅ نُقصان ورنکړو. دا ئې چې اوليدل نو شَمعُون ډېر مُتَاَثِّره شو خو پريشانه شو او اوئې وئيل: "زه اويا کاله د وور په عِبادت کښې اخته ووم! اوس په آخِره کښې به څه مُسلمان شم!" هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په هغه اِنفِرادي کوشش جاري اوساتلو، آخِر دا چې هغه عرض اوکړو: "زه په دې شرط مُسلمانيدے شم چې تاسو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ما ته دا وعده ليکلي راکړئ چې زما د مسلمانيدو نه پس به **الله** پاک زما ټول ګناهونه معاف کړي." هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم د دې مضمون

وعده وليکله او هغه ته ئې حواله کړه، خو هغه دا اُووئيل چې: ”په دې د عادِلو [يعني انصاف کوونکو] خلقو ګواهي هم وليکئ.“ هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه د هغه دا مطالَبه هم پوره کړه. د دې نه پس هغه مسلمان شو او **وصِيَّت** ئې اوکړو چې زما د مرګ نه پس به ما ته تاسو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه پخپله غُسل راکوئ او دا ”**ليکلې وعده**“ به ما ته په لاس کښې کيږدئ چې په **ميدانِ حشر** کښې زما د مُومِن کيدو ثبوت جوړ شي. د دې وصيّت نه پس ئې کَلِمَۀ شَهَادت اُووئيله او **ساه** ئې **وختله**. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه د هغه وصيَّت پوره کړو، هم په هغه شپه هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه هغه په خوب کښې اوليدو چې هغه ډيرې قيمتي جامے اغوستي دي او په نقش و نِګار ښائسته کړے شوے **تاج** ئې په سر دے او د جَنَّت په سيل کښې مصروف دے. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه ترينه تپوس اوکړو چې: په تا څه تير شو؟ هغه عرض اوکړو: ”**الله** پاک زه اُوبخښلم او ما ته ئې داسې انعامونه راکړل چې زه هغه نه شم بيانَولے، لِهٰذا! اوس په تاسو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه هيڅ بوج نشته او دا ”ليکلې وعده“ بيرته واخلئ ځکه چې اوس ماته د دې حاجت نشته.“ چې هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه رابيدار شو نو هغه ليکلې وعده ئې په لاس کښې موجوده وه. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه په دې کاميابئ د **الله** پاک شُکر ادا کړو. (تذکرۃ الاولیاء ج1 ص 41) **د الله پاک دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په برکت دې زمونږ بے حسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

زمانے بھر میں مچادیں گے دھوم سنّت کی
اگر کرم نے ترے ساتھ دے دیا یارب

(وسائل بخشش ص۹۵)

ستا د نبي سُنّت به عام کړو په دُنيا کښې مونږه      که ستا کرم زمونږه مل شو کِبرِيا يا ربّ

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد**

## زه په وور کښې پوره شل منټه ولاړ ووم!

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو!** د **الله** والؤ هم څه ښه ښکُلے او اوچت شان وي چې هغوئي **د نيکئ دعوت** هم ورکوي، د **الله** پاک په عِنايَت **ګرامتونه** هم ښائي او د ايمان

د نِعمَت د ورکولو ذریعه هم جوړيږي او دغسې په جَنَّت کښې د داخليدو سبب هم جوړيږي. بَهرحال د ګاونډي فِکر هم کول پکار دي او هغه د نيکۍ د دعوت نه محرومه کول نه دي پکار. خو د غير مُسلمه سره د دوستۍ کولو اِجازَت نشته. هسې نه چې يو عام کس دا سوچ اوکړي چې په دې بهانه به دا مُسلمان کړم. البَتَّه کوم عالِم دِين چې د هغه غير مُسلِمه د مَذهَب او د باطِلو عقيدو د رد کولو قدرت لري هغه دې بيشکه د شريعت په دائره کښې دننه دننه هغه د اسلام قبلولو د پاره څان ته رانزدې کړي او هغه ته دې د اسلام طرف ته رَغبَت ورکړي او د هغه د اعتراضونو جوابونه دې ورکړي. د کَرامت په بَرَکت په سوونو د وور عِبادت کوونکي اسلام ته د داخليدو په باره کښې په حياتِ اعلیٰ حضرت جلد اوّل صفحه 183 او 184 کښې ليکلے يو ايمان تازه کوونکے حِکايت واورئ، چې په هغې کښې د اعلیٰ حضرت رَحمَةُ اللهِ عَلَيه د بے مِثاله تقوٰی تذکره هم ده، حکايت لږ په آسانه طريقه د پيش کولو کوشش کووم، چنانچه حضرتِ مَولانا حُسَين ميرټهي رَحمَةُ اللهِ عَلَيه فرمائي چې: حضرت پير عبدُالحَميد صاحِب بَغدادي رَحمَةُ اللهِ عَلَيه د هِند د صوبه ګجرات يو ښار بَړوده ته تشريف راوړو او په جامِع مسجد کښې ئې يوه ورځ د ماښام د لـمانځه اِمامَت اوکړو، ما د قراٰن شريف لوستلو داسې اثر کله هم نه وو ليدلے، معلومات مې اوکړل او د هغوئي سره د مُلاقات د پاره د هغوئي قِيام ګاه ته لاړم. د اِعجازِ قراٰني په سلسله کښې پير صاحِب يوه خپله ايمان تازه کوونکې واقِعه واوروله، اوئې فرمائيل چې: زه يو ځل ”اِيران“ ته تلےووم، هلته د يوې پخوانۍ زَړې آتشکدے [يعني د وور د عِبادت د ځائے] سره تَعَلُّق لرونکو آتش پرستو [يعني د وور عِبادَت کوونکو] سره مې د مناظَرے ترکيب جوړ شو. ما اُووئيل چې د کوم وور تاسو عِبادت کوئ راځئ چې هغې ته دننه لاړ شو او پوښتنه ترينه اوکړو چې آيا هغه د خپل عبادت کوونکو څه خيال ساتي او که سيزي ئې! زما دا خبره هغه خلقو ټوقه وګڼله، خو يو وخت اوټاکلے شو. په ټاکلي وخت ټول ښار د دې ”عجيبه مناظرے“ د ليدلو د پاره راجمع شو. ما د هغوئي يو [مشر د وور] عبادت کوونکي ته اُووئيل: راځه

چې وور ته ننوځو! هغه اُوېَرېدو.اَلْحَمْدُ لِلّٰه زه آتشکدے ته داخِل شوم او په شُعلې وهونکې وور کښې دننه پوره 20 مِنټه ولاړ ووم، بيا په خيريت و عافِيَّت سره بَهر را اُووَتم. دا نظاره ئې چې اوليده نو اَلْحَمْدُ لِلّٰه ډيرو آتش پرستو توبه اوکړه او مسلمانان شول. حضرت مَولانا حُسين ميرټهي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه فرمائي: ما ترينه تپوس اوکړو چې: تاسو دومره هِمَّت څنګه اوکړو؟ اوئې فرمائيل: چې وور ته داخليدم نو په لاس کښې مې قراٰنِ کريم نيولے وو او زما دا يقين وو چې قراٰنِ کريم مونږه د جَهنَّم د وور نه بچ کولے شي نو د دُنيا د دې مَعمولي وور نه به مو ولې نه بچ کوي! هغه بُزُرګ ته ما د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه د لـمانځه په باره کښې د يو خاص اِحتِياط ذِکر اوکړو نو هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه ډير زيات مُتَاثِره شو، په دويمه ورځ مې ورسره بيا مُلاقات اوشو نو اوئې فرمائيل: نن شپه مې تولـه په ژړا تيره کړې ده، هم دا مې وئيل چې اے خدايه پاکه! ستا داسې بندګان هم شته دے چې په دومره احتياط لـمونځ کوي. (حياتِ اعلٰی حضرت ص 183، 184 بِتَغَيُّر)

اللہ! کیا جہنّم اب بھی نہ سَرد ہو گا!
رو رو کے مصطفٰے نے دریا بہا دیئے ہیں

(حدائقِ بخشش شريف)

شرحِ کلامِ رضا: په دې شعر کښې اعلٰی حضرت، مَولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه د خدائے پاك په دربار کښې عرض کوي: **يا الله پاکه!** آيا د جَهَنَّم وور به د غلامانِ مُصطَفٰی په حق کښې اوس هم نه سړيږي! زما خوږ خوږ پروردګاره! ستا خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل اُمَّت د بخښنې د پاره دُعاګانو غوښتلو کښې دومره ژړلي دي دومره ژړلي دي لکه په ژړا ژړا ئې چې دريابونه بهيولي وي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## دِماغ مې خوشبوداره شو

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! په خپل زړه کښې د اوليائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيهِم د مَحَبّت شمع بَلَوَلو د پاره، د فيضانِ اولياء حاصلولو د پاره او د دُنيا او آخِرَت د بهترئ د

پاره د دعوتِ اسلامي دِيني ماحول سره هر دَم تړون ساتئ، ستاسو د شوق او جذبے زياتولو د پاره يو مَدَني سپرلے ستاسو په خِدمَت کښې وړاندې کووم چنانچه د ډيره مُراد جَمالي (بلوچستان، پاکستان) اوسيدونکي د يو اسلامي ورور د ليکلي بيان خُلاصه پيش کووم: د دعوتِ اسلامي خوشبوداره دِيني ماحول کښې د شامِليدو نه مخکښې زما ژوند په ګناهونو کښې تيريدَلو، زما د ژوند په خزان وهلي چمن کښې د سپرلي هوا داسې راغله چې يوه ورځ زه د معمول مطابق په خپل ميډيکل استور کښې موجود ووم، يو اسلامي ورور زما خوا ته تشريف راوړو او د انفِرادي کوشش په ذريعه ئې ما ته په بين الاقوامي د سُنَّتو ډکه اجتِماع کښې د شِرکت دعوت راکړو خو ما د هغوئي په خبره هيڅ غوږ اُو نه ګرَوَلو. د اِصلاحِ اُمّت د جذبے نه ډک د هغه عاشِقِ رَسول حوصله د کميدو په ځائے لکه چې نوره زياته شوه! هغه په ما باندې انفِرادي کوشش مسلسل جاري وساتلو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه زه دهغوئي د مَحَبّت او د مسلسل انفِرادي کوشش په بَرَکت په بين الاقوامي د سُنَّتو ډکه اجتِماع کښې د شِرکت کولو د پاره تيّار شوم. چې کله زه د اِجتِماع ګاه په نوراني فَضا کښې درداخِل شوم او د عاشِقانِ رسول [د ډير ګڼ شمير] چپې وهونکے سمندر مې اوليدو نو بے حَده مُتاَثِّره شوم. تِلاوتِ قُرآنِ پاك، د سُنَّتو ډکو بيانونو، د [مدينے د] غم نه ډکو نعتونو او د ذِکرُ الله خوندَوَرو انګازو مې زړه او دِماغ خوشبوداره کړل او روح او بدن مې تازه شو، ما د تيرو ګناهونو نه توبه اوکړه او سَمدَستي مې د ګيرې پريښودو نِيَّت اوکړو او د سُنّتو د تربِيّت د پاره سفر کوونکي د دعوتِ اسلامي د عاشِقانِ رسول د مَدَني قافلے سره مې د الله تعالىٰ په لار کښې د سفر کولو ذِهن هم جوړ کړو. اَلْحَمْدُ لِلّٰه د دعوتِ اسلامي د خوشبوداره دِيني ماحول سره د تَړون په بَرَکت ما ګنهګار ته د نيکو سره د مَحَبّت او د ګناهونو نه د نفرت عظيمه جذبه رانصيب شوه.

ہیں اسلامی بھائی سبھی بھائی بھائی ہے بے حد محبت بھرا دِینی ماحول
یقیناً مقدّر کا وہ ہے سکندر جسے خیر سے مل گیا مَدَنی ماحول

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص 602)

دي اسلامي ورونړه ټول ورونړه ورونړه ډير د مَحَبّت نه ډك دے دا دِيني ماحول

يقيناً د مُقَدّر هغه دے سِکندر په خير چې نصيب شو د چا دا دِيني ماحول

صَـلُّوْا عَـلَی الْـحَـبِـيْـب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

# د مَدَني سپرلي په حقله د "نيکئ" مُتعلِّق د نيکئ دعوت

خورو او مُحترمو اسلامي ورونړو! تاسو اوليده! د اسلامي ورور په اِستِقامت سره اِنفِرادي کوشش آخِر کامياب شو او د ګناهونو ډك ژوند تيرولو والا ځلمے د سُنَّتو ډکې اجتِماع ته راغے او د عاشِقانِ رسُول صُحبَت او بَرَکت نيك جوړ کړو، هغه ته د ګيرې پريښودو، د نيکئ کولو او د ګناهونو نه د خلاصې حاصلولو جَذبه هُم نصيب شوه. واقِعي "نيکـي" کول د لوئے سعادت خبره ده. نيکـي ګناه خَتمَوي او بنده د عَذابِ قبر او جَهنَّم نه بچ کوي او جَنَّت ته ئې بوځي. د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي ادارے **مَكتَبَةُ الْمَدِيْنَه** چاپ شوي د ترجَمے والا پاکِيزه قُرآن "کنزُالاِيمان مَعَ خزَائِنُ الْعِرفان" دولسمه سيپاره صفحه 438، سُوْرَۂ هُود آيت 114 کښې **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰی اِرشاد فرمائي:

اِنَّ الْحَسَنٰتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّاٰتِ ؕ

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِيمان: بيشکه نيکئ بدو لره ورانوي [يعني ختموي].

## دوه فَرامينِ مُصطفٰی صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

﴿1﴾ چې په هر ځائے کښې ئې، د **الله**پاک نه ويريږئ او د ګناه نه پس نيکي کوئ ځکه چې هغه نيکي به هغه ګناه ورانه کړي او د خلقو سره د حُسنِ اخلاق سُلوك کوئ. (ترمذی ج3 ص397 حديث1994) ﴿2﴾ بيشکه د ګناه نه پس د نيکئ کوونکي مِثال د هغه کس په شان دے د چا تنګې زغرې چې د هغه مرئ بنده کړي وي بيا هغه نيك عمل اوکړي نو د هغه زغرې يوه کړئ خلاصه شي بيا چې کله هغه دويمه نيکي اوکړي نو د هغې دويمه کړئ هم خلاصه شي تر دې چې هغه زغره په زمکه پريوځي. (مُسند اِمام احمد بن حنبل ج6 ص121 حديث17309)

## د ګناه ورانولو نُسخه

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼـو! د آیتِ مُبارکه او دوو فرامینِ مُصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم نه معلومه شوه چې کله هم د چا نه ګناه اوشي نو پکار ده چې څه نیکي اوکړي مَثَلًا دُرُود شریف یا کَلِمهٔ طیِّبه دې اولولي. چنانچه حضرت سیِّدُنا ابوذر غِفاري رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي چې: ما ته د مدینے سُلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم په نصیحت کښې دا ارشاد اُوفرمائیلو: چې کله هم ستا نه څه بد عمل اوشي، نو د هغې نه پس څه نیك کار اوکړه ځکه چې دا نیکـي به هغه بدي ورانه کړي. ما عرض اوکړو: یا رَسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم آیا لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وئیل په نیکیانو کښې ده؟ اوئې فرمائیل: دا خو د ټولو نه غوره نیکي ده. (مُسنَدِاِمام احمد ج8 ص 113 حدیث21543)

## د توبه په اِراده ګناه کول کُفر دے

د دې حدیثِ پاك د لوستلو نه دې مَعَاذَالله څوك دا نه ګڼي چې ګني زَبردَسته نُسخه په لاس راغله! اوس خو به ښه ډیر ګناهونه کوو او لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ به لوَلو او ګناهونه به مو ختمیږي. قَسَم په خدائے دا د شیطان ډیر غټ او بد وار دے په دې اِراده ګناه کول چې وروسته به توبه اوکړم دا اَشَدّ کبیره یعني ډیره زیاته سخته کبیره ګناه ده. بلکه مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الْاُمَّت حضرت مُفتي احمد یار خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په نُورُ الْعِرفان صفحه 376 کښې د سُورۂ یُوسُف د نهم آیت نه لاندې لیکي: ”د توبه په اِراده ګناه کول کُفر دے.“

بوقتِ نزع سلامت رہے مرا ایماں　　مجھے نصیب ہو کلمہ ہے التجا یاربّ
جو ”مَدَنی کام“ کریں دل لگا کے یااللہ　　اِنہیں ہو خواب میں دیدارِ مصطفٰے یاربّ
تری محبت اُتر جائے میری نَس نَس میں
پئے رضا ہو عطا عشق مصطفٰے یاربّ

لرې اِیمان مې سلامت په وخت د ځنکدن　　ته رانصیب کړې کَلِمه کرم اِلتِجا یا ربّ
څوك چې کوي په شوق دِیني کارونه یا الله　　په خوب کښې شي دې ورنصیب دیدارِ مُصطفٰی یا ربّ
زما په رګ رګ کښې دې راشي مَحَبّت دا ستا　　راکړې په خاطِر د رضا، عِشقِ مُصطفٰی یا ربّ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ګاونډي د ګناه نه د نه منع کولو وَبال

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د ګاونډيانو ډېر زيات حقونه دي، د دې د پوره کولو د پاره مونږ ته هر وَخت کوشش کول پکار دي. ګاونډيانو ته د سُنَّتو ډکه اجتِماع کښې د شرکت او په مَدَني قافِله کښې د سُنَّتو ډك سفر کولو دعوت ورکولو کښې هم غفلت نه دي کول پکار او که هغوئي مَعَاذَ الله په ګناهونو کښې اخته اُووِينئ نو د هغې نه ئې د منع کولو هم پوره کوشش کول پکار دي. حضرت سَيِّدُنا مالِك بِن دِينار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه فرمائي: ما په تورات شريف کښې لوستلي دي چې د چا ګاونډي په نافرمانئ کښې اَخته وي او هغه ئې نه منع کوي نو هغه هم په دغه ګناه کښې شريك دے.

(اَلزُّهد لِلاِمام اَحمد ص 134 رقم 527)

## ګاونډي به د قيامت په ورځ دعوىٰ کوي

ګاونډي ته د نيکئ د دعوت ورکولو او د ګناهونو نه د بچ کولو اَهميت ډېر زيات دے څنګه چې د دې راتلونکي رِوايت نه معلوميږي، چنانچه **حضرت** سَيِّدُنا ابو هُريره رَضِيَ اللهُ عَنهُ فرمائي: مونږ دا خبره اوريدلې ده چې **د قيامت په ورځ** به يو کس د بل خِلاف **دعوىٰ** کوي حالانکه هغه به هغه نه پيژني. **مُدّعىٰ عليه** (يعني په چا چې دعوىٰ شوي وي هغه) به وائي: ستا په ما باندې څه حق دے؟ زه خو تا (صحيح) پيژنم هُم نه. مُدّعي (يعني دعوىٰ کوونکے) به وائي: تا به زه په ګناه کولو ليدلم او نه به دې منع کولم.

(اَلتَّرغِيب وَالتّرهِيب ج 3 ص 186 حديث 3546)

## بے لمانځه ګاونډي ته د لمانځه دعوت ورکوئ

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د بيان شوو دواړو رِوايتونو نه معلومه شوه چې **ګاونډيانو** ته هم ضرور **د نيکئ دعوت** ورکول او د بدو نه منع کول پکار دي، ستاسو **ګاونډي** که بے لمانځه وي نو هغه ته د لمانځه دعوت ورکړئ، که هغه لمونځ ګُزاره

وي او په جَمعه کښې سُستي کوي نو هغه ته د جَمعې [سره د لـمانځه کولو] نصيحت کوئ ځکه چې که تاسو ته غالِب ګُمان وي چې که پوهه ئې کړئ نو د جَمعې سره به لـمونځ کول شروع کړي نو د هغه پوهه کول په تاسو **واجِب** شو که نه ئې پوهه کوئ نو ګنهګار به ئې چنانچه د دعوتِ اسلامي د اِشاعتي ادارے مَکتَبَةُالْمَدِيْنَه چاپ شوي د 1250 صفحو کتاب "بهارِ شريعت جِلد اوّل" صفحه 582 کښې دي: په عاقِل، بالِغ، حُر (يعني آزاد)، قادِر (يعني قُدرت لرونکي) باندې جَمعه واجِب ده، بے عُذره يو ځل هم پريښودلو والا ګنهګار او د سزا مُستحِق دے او که ډير ځل ئې پريږدي نو فاسِق مَردُودُ الشَّهادة دے (يعني د هغه ګواهي د رد کولو قابله ده) او هغه ته به سخته سزا ورکولے شي، که ګاونډيانو ئې خاموشي اختيار کړه نو هغوئي هم ګنهګار شول.(دُرِّمُختار و رَدُّالمُحتار ج2 ص340 غُنيه ص508)

## اِمام ته پکار دي چې د مُقتدي ښارنه کوي

د جُماتونو د اِمامانو په خِدمت کښې مشورتاً عرض دے چې هغوئي دې د خپلو مُقتديانو ښارَنه کوي چې په دوئي کښې څوك د جَمعې سره لـمونځ کوي او څوك نه، که کوم مُقتدي په يو لـمانځه کښې غير حاضِر وي نو د هغه کور ته دې ورځي يا دې ورته فون کوي او د هغه خبر دې اخلي، که بيمار وي نو د هغه تپوس دې کوي او که د سستئ په وجه نه وي راغلے نو د نيکئ دعوت دې ورکوي او دا صِرف د اِمام صاحِبانو د پاره نه دي ټولو اِسلامي ورونړو ته دا انداز اختيارَول پکار دي.

## فاروقِ اعظم د سحر په لـمانځه کښې د غير حاضر کس معلومات اوکړو

د اَمِيرُ الْمُؤمِنِين، اِمامُ الْعادِلِين، مُتَمِّمُ الْاَربَعِين، حضرت سيِّدُنا عُمَر فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ د لـمونځ ګزارو د خبر اخستو يو رِوايت اُوګورئ او د دې مطابق د عمل کولو ذِهن جوړ کړئ چنانچه **اَمِيرُالْمُؤمِنِين** فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ د سحر په لـمانځه کښې

حضرت سیّدُنا سُلیمان بِن حَثمَه اُو نه لیدو. بازار ته ئې تشریف یوړو، په لاره کښې د سیِّدُنا **سُلیمان** رضی اللہ عنہ کور وو د هغوئي د کور دروازے ته ئې تشریف یوړو او د هغوئي مور حضرتِ سیّدَتُنا **شِفا** رضی اللہ عنہا ته ئې اُوفرمائیل چې د سحر په لـمانځه کښې مې سُلیمان اُو نه لیدو! هغې اُووئیل چې: د شپې ئې لـمونځ کولو (یعني نفلونه ئې کول) بیا خوب ورغے، سَیِّدُنا **عُمَر فاروقِ اعظم** رضی اللہ عنہ اُوفرمائیل: چې د سحر لـمونځ د جَمعې سره اوکړم دا زما په نِزد د دې نه غوره دي چې د شپې قِیام (یعني نفلونه) اوکړم.

(موطّا امام مالِك ج1 ص134 حديث300)

## د اِجتِماعِ ذِکر و نَعت په وجه جَمعه پریښودل نه دي پکار

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! تاسو اولیده! چې حضرت سَیِّدُنا عُمَر فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ [د هغوئي] کور ته تشریف یوړو او خبر ئې واخِستو، د دې رِوایت نه دا هم معلومه شوه چې ټوله شپه د نفلونو ادا کولو یا په اِجتِماعِ ذِکر و نَعت کښې د شپې ناوخته پورې د شِرکت کولو په وجه د سحر لـمونځ قضا کیدل خو پریږدئ که د سحر جَمعه هم ځې نو لازِمه ده چې داسې مُستَحَبَّات دې پریږدي او آرام دې اوکړي او د سحر لـمونځ دې دَ جَمعې سره اوکړي.

## د لـمانځه په وخت کښې د اُوده کیدونکو د پاره د سر چقولو عذاب

**کوم** خلق چې د شپې د ناستې ټولګې او محفلونه جوړَوي او د سحر د لـمانځه نه محکښې اوده کیږي او خپل ځان د لـمانځه نه محرومه کوي د هغوئي د پاره د فِکر مُقام دے. چنانچه سرکارِ مَدینهٔ مُنَوَّره صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم صحابهٔ کرامو علیہم الرضوان ته اُوفرمائیل: نن شپه دوه کسان (یعني جِبرائیل علیہ السلام او میکائیل علیہ السلام) ما له راغلل او زه ئې اَرضِ مُقَدَّسه ته راوستم. ما اولیدل چې **یو کس** ملاست دے او د هغه سر ته یو کس **کټ** [یعني غټ کاڼې] اوچت کړې ولاړ دے او مسلسل په **کټ** د هغه سر چقوي، د هرې پیرې

چقولو نه پس سر بيا روغ شي. ما فرښتو ته اُوفرمائيل: سُبۡحٰنَ الله دا څوك دے؟ هغوئي عرض اوکړو مخکښې تشريف يوسئ (د نورو منظرونو ښودلو نه پس) فرښتو عرض اوکړو چې ورومبي کس چې تاسوصَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوليدو دا هغه وو چا چې قرآن وئيلے [يعني حِفظ کړې] وو بيا ئې پريښودے وو او د فرض لـمونځونو په وخت کښې به اوده کيدو، د ده سره به دا سلوك د قيامته پورې کيږي. (مُلَخَّص از صحيح بُخاری ج4 ص425 حديث7047)

میں پانچوں نمازیں پڑھوں باجماعت ہو توفیق ایسی عطا یاالٰہی

چې د جمعې سره کړم پينځه لـمونځونه توفيق داسې را ته راکړې يا اِلٰهي

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د فلمونو 2000 وي سي ډياني ئې ماتې کړې

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونـو! دَ لـمونځونو عادت جوړَوَلو د پاره، په سُنّتو د عمل کولو د پاره، د نيکو کولو د عادت جوړَوَلو د پاره او د ګناهونو د سپيره والي نه د خلاصي موندلو د پاره د دعوتِ اسلامي دِيني ماحول سره تړون اوکړئ، راځئ! چې ستاسو د ترغيب او تَحريص د پاره تاسو ته يو مدني سپرلے بيان کړم چنانچه د ايشيا د تولو نه غټې کچه آبادئ اورنګي ټاؤن (کراچئ) اوسيدونکي د يو اسلامي وررور د مکتوب [يعني خط] خُلاصه ده چې: د دعوتِ اسلامي دِيني ماحول ته د راتلو نه مخکښې زه د نيکو نه ډير لرې د ګناهونو په دلدل کښې نښتې ووم، د نفس خواهِشات پوره کول لکه چې زما د ژوند مقصد ګرځيدلے وو. فُحش [يعني د بے حيائي نه ډك ګنده] فِلمونه او ډرامے کتلو سره سره د قِسما قِسم نورو ګناهونو په سپيره والي کښې آخته ووم. زما د نيکو نه د ډير زيات غفلت او فِلمونو او ډرامو سره د ليوَنتوب د حده پورې د مَحَبّت اندازه د دې خبرې نه لګيدے شي چې د کور نه به ما ته د مياشتې زر روپئ جيب خرچ راکول شو په هغې به مې د نوو نوو فلمونو او ډرامو V.C.Ds (وي سي ډياني) اخستې تر دې چې زما سره د دوو زرو (2000) نه زياتې وي سي ډياني جمع شوې وې! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه زما په قِسمَت کښې

نيك هِدايت ليکلے شوے وو د هغې سَبَب داسې جوړ شو چې يوه ورځ يو عاشِقِ رسول د عمامے تاج په سر کړے زما خوا ته تشريف راوړو او په اِنفِرادي کوشش کولو کښې ئې ما ته د فِکرِ آخِرت مُتَعَلِّق څه په داسې طريقه د نيکئ دعوت راکړو چې د الله پاک ويره زما په رګ رګ کښې خوره شوه، [زما د زړه] د بدو عادتونو او د ګنده خيالونو عمارت اوړقيدو، د هغه عاشِقِ رسول د حُسنِ اخلاق او اِنفِرادي کوشش په بَرَکت زه د دعوتِ اسلامي په هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې حاضِر شوم. هلته کيدونکي د سُنَّتو ډك بيان زما په ګناهونو کښې اَخته زړه بالکل بدل کړو او په آخِره کښې کيدونکې رِقَّت انګيزې [يعنې ژړوونکې] دُعا مې په زړه داسې اثر اوکړو چې کور ته راغلم نو ما د فِلمونو ټولې وې سي ډيانې ماتې کړې. د دعوتِ اسلامي دِيني ماحول سره د تړون په بَرَکت ما د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارے مَکتَبَةُ الْمَدِيْنَه د سُنَّتو ډکو بيانونو کيسټې راوړلې، پخپله مې هم واوريدلې او د کور کسانو ته مې هم د اوريدلو د پاره ورکړې، د هغې په بَرَکت اَلْحَمْدُلِلّٰه زمونږه ټوله کورنئ په دِيني ماحول کښې شامِله شوه او په قادِري رَضَوي سلسله کښې هم داخله شوه.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د نيکو بندګانو شان

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! د سُنَّتو ډکې اجتِماع د بَرَکتونو به څه وائې! په دې کښې د عاشقانِ رسول صُحبتونه، نزديکت او بَرَکتونه نصيب کيږي، په دوئي کښې ډير د الله پاک مقبول بندګان وي چې هغوئي اګرچې پيژندلے نه شي خو د هغوئي په بَرَکتونو بيړئ پوريوځي. عُلماء فرمائي: کوم ځائے چې خلويښت صالِح (يعنې نيك) مسلمانان جمع شي په هغوئي کښې يو وَلِيُّ الله ضرور وي. (فتاوٰی رَضَوِيّه ج24 ص184. تيسير شرحِ جامِع صغِير تحتَ الْحديث 714 ج1 ص312) فرمانِ مُصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: ډير د ګډو وډو ويښتو، په دُوړو خړ بدن والا او د دوه زړو ټوټو [يعنې کپړو] والا داسې وي چې د هغوئي پرواه نه لره شي

که هغوئي د اللّٰه پاک قَسَم اُوخوري نو اللّٰه پاک د هغوئي قسم پوره کوي او براء بِن مالِك (رضی اللّٰہ عنہ) د هُم هغه خلقو نه [یو] دے. (سُنَنِ ترمِذی ج5 ص460 حدیث3880)

اپنے اچھّے بندوں کے طفیل اے کبریا
مجھ نکمّے اور بُرے بندے کو بھی اچھّا بنا

په خاطِر د خپلو نیکو بندګانو کِبریا
ما ناکاره، بد بنده هم کړي نیك یا خُدا

اٰمِین بِجاهِ خاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہ علَیہِ واٰلہٖ وسلَّم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د حضرت براء بن مالِك د دُعا د قبولِيّت حِكايت

د ذِکر کړے شوي حَدِیثِ پاك راوي د سرکارِ مَدِينه صَلَّی اللّٰہ علَیہِ واٰلہٖ وسلَّم د دي فرمانِ عالیشان په نتیجه کښې یو ایمان تازه کوونکے حِکایت بیان کړے دے، تاسو هم واورئ او ایمان تازه کړئ چنانچه راوي وائي: یو ځل مسلمانان او کُفّار د یو بل سره مخامخ شول نو کُفّارو مسلمانانو ته سخت نُقصان ورسَوَلو. مسلمانان راجمع شو او براء بِن مالِك رضی اللّٰہ عنہ ته ئي ګُزارش اوکړو چې: اے براء رضی اللّٰہ عنہ! د خپل ربّ قَسَم ورکړئ او د فتح دُعا اُوغواړئ! هغوئي عرض اوکړو: یا اللّٰه پاکه زه تا ته ستا قَسَم درکووم او دُعا کووم چي مونږ ته په کُفّارو باندي غَلَبه راکړي او ما د خپل نبي صَلَّی اللّٰہ علَیہِ واٰلہٖ وسلَّم خوا ته ورسوي (یعني شهادت راکړي). فوراً دُعا قبوله شوه، مسلمانانو ته فتح نصیب شوه او هم په هغه جنګ کښې حضرت سَیِّدُنا براء بِن مالِك رضی اللّٰہ عنہ شهید شو. (اَلْمُستدرَك لِلحاکِم ج4 ص340 حدیث5325) د اللّٰه پاک دي په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دي زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِین بِجاهِ خاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہ علَیہِ واٰلہٖ وسلَّم

چاہیں تو اشاروں سے اپنے کایا ہی پلٹ دیں دنیا کی
یہ شان ہے خدمتگاروں کی سرکار کا عالم کیا ہو گا!

که اُوغواړي نو بدل به کړي حالت، د دُنيا په اِشارو
د حضور به څنګه شان وي، دا ئي شان دے د خِدمت ګارو

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

# جادُو

## نه د حفاظت دپاره وظِیفه

"یَا مُحْیِیْ یَا مُمِیْتُ" روزانه 7 ځله وائے
او ځان پرې دَموئ، اِنْ شَآءَ اللّٰه
جادُو به اثر نه کوي.

(40 رُوحانی علاج مع طِبّی علاج، ص 8)


فیضانِ مدینه، محلّه سوداګران، زړه سبزي منډهي کراچئ

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com